# څنګه یو ښه شاګرد کیدای سو؟



Ketabton.com

لیکنه او ژباړه: شمس الله «شاداب»

کال: 1399/02/18__2020/05/08


(c) ketabton.com: The Digital Library





# نو ددغو لاندې لارښوونې په نظر کې ونیسئ.

## ۱. دمطالعې لپاره یو پلان جوړول



کله چې تاسې فکرکوئ مطالعه کوئ. تاسې به هیڅکله مطالعه ونکړئ، ترڅوچې دمطالعې لپاره مو هفته واره یا میاشتنی پلان جوړنکړئ. تقسیم اوقات مو باوري کوي چې وضیح ډول موکاروته ادامه ورکړئ مثلاً: تاسې داسې مه وایاست چې ته غواړې چې په انګلیسي ښې خبرې وکړې یا تا سو غواړئ چې په امتحان کښې ښې نمرې ترلا سه کړې مګر هغه واضیح څه ته اشاره وکړئ چې غواړئ یې په انګلیسي کښې پرمختګ وکړئ، هغه څه چې ته یې کولی سې یا اټکلولی سې ، اندازه کولی سې نوبیا وروسته تاسې پوهیږئ کله چې تاسې هغه هدف لاسته راوړئ.

باید ووایم هغه څه چې واضیح، داټکل وړ، دترلاسه کید وړ، په حقیقت ولاړ، او دټاکلي وخت لرونکي وي. دلاسته راوړلو لپاره یې وخت وټاکئ اولاس په کارسئ ترڅو خپل هدف ته په اسانۍ سره ځان ورسوئ.

## ۲. دغلطۍ کولو څخه مه ویریږئ



کله چې مورنۍ ژبه زده کوو، هروخت غلطۍ کوو. تاسې په قطعي ډول په صنف کې دغلطۍ کولو څخه مه ویریږئ. لکه څرنګه چې مورنۍ په پښتو ژبه کې یو متل لرو(هیڅوک له آسمانه ندي راغلي، خواري کښېلې ده او دې ځاى ته یې ځان رسولی دی. یا هم هیڅوا دمورپه نس کې ندي زده کړې.) په هرصورت، تاسې باید دصنف څخه دباندې هم دغلطۍ کولو څخه ونه ویریږئ. اکثره خلک دچاچې انګلیسي مورنۍ ژبه ده هم کله ناکله په خبرو کښېې غلطۍ کوي. نو ستا سو زیات تمرکز باید پرخبرو اترو او محاوره کولووي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## ۳. دلوستلو اوخبروکولو دهرې موقع څخه استفاده وکړئ



کتابونه، رســـالې، مجلې، ورځپاڼې اونورڅه مطالعه کړی یا هم دلوســـتلوســـره يې علاق ولری، که چيرې ديوه علمي مرکز په يوه برخه کې یاست او یا هم فارغه وخت ولری، نوخپل ځان تشويق کړی ترڅو دنويو مفاهيمو دپوهېدولپاره په ډېره لوړه ســـطحه لوستنه وکړی.

کتابتون ته ولاړ سی یا ځيني مواد راغو ښتلای سی ترڅو د ښې لو ستنې لپاره ځان برابر کړی. او دا سې کاروکړی چې تعليمي ويډيوګاني وګوری چې فعاله مو و ساتي. ډېرې زياتې دمهارته لرونکو کسانو ويډيوګانې ســته چې دهغو نومهارتوته مو متوجه کوي، یا ځيني تعليمي پروګرامونه دي او کولی سی چې دخپلي ر شتې اړوند يې وګوری. که چيرې تا سې کوښښ کوی چې يوه نوې ژبه زده کړی یا ددې کوښښ کوی چې څنګه يوه تجربه حاصله کړی هم کولی سی او تاسې کولی سی چې په ښه ډول داوريدلو(لېسنينګ) ايډيو څخه هم ګټه اخيستلی سی.

## ۴. دخپلو خبرکولو دتمرين لپاره دهرې موقع څخه استفاده کول



زياتره خلک چې کله لندن ته راځي نو يوازې دخپلو ا ستادانو او ملګرو ســره خبرې کوي. اکثره وخت اســتاد ډېرې کرارې او په واضيح ډول خبرې کوي دهرچاء په سويه.

يوازنې هغه لاره چې تا سې کولی سی انګليسې ژبه په واقعې ژوندکی اســتعمال کړی هغه په ســفر تلل او دنويو خلکو ســره ملاقات کول دي.

دغه ويب پاڼه (Meetup.com) يو ګروپ درلود چې ورته "دژبې بدلول وايي." چيرې تا سی دنويو خلکو سره ملاقات کولی سی اوخپله انګليسې تمرين کولی سی، او شايد دهغومورنۍ ژبې انګليسې ولا سره ملاقات وکړی څوک چې غواړي ستا سو ژبه زده کړي. په حقيقت کې، کله چې


(c) ketabton.com: The Digital Library






دنابلدو سره ملاقات کوی، تا سي باید باوري او سی لکه تا سي چي دیوه ملګري سره ځی دهغه چا سره څوک چي پوهیږي چي تا سي چیري ځی. که دنابلدو (ناا شناوو) سره نه غواړی ملاقات وکړی، کو ښښ وکړی دخپل کورنۍ دغړو سره خبري اتري او محاوري ولری، دخپلي کورنۍ او ملګرو سره پاتي سی او دهغه څه په اړه بحث ور سره وکړی کوم چي تاسو په مکتب کي زده کړیدي.

## ۵. مطالعي لپاره ځانګړی (جلاء) ځای ولری



داغیزناکي مطالعي لپاره آزاده ساحه اوهوآدیره ښه ده، ځکه چي دماغ په ښــه ډول ســره فعالیت کولی سي. تا سي باید په کور کي یو دفتر ولری، دخوب په خونه کي یومیز، چوکی. تاســي کولی ســي چي (*BLOOMSBURY INTERNATIONAL*) سایټ کي دزده کونکو دمنابع له مرکز څخه اســتفاده وکړی. ســتاســي دمطالعي ساحه باید پراخه، پاکه او پارونکي وي نه بي نظمه او چټله.

## ۶. دمهمو (ضروري نوټونو) اخیستل زده کړی



هغه که په پوهنتون یا په مکتب کي وي. هایلایټر، پنســل او نورو توکي کارولی ســي. همدارنګه کله چي خپله مطالعه کوی، نو دځان ســره دیاداښــت کتابچه ولری او خپل مهم نوټونه پکښــي ولیکی. ترڅو په راتلونکي داســتفادي لپاره دکتابو په پیداکولو کي کوم مشکل نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پای

وسلام

سرچینه: BLOOMSBURY INTERNATIONAL



---

لیکنه او ژباړه: شمس الله «شاداب»

کال: 2020/05/08_1399/02/18

ورځ: جمعه، رمضان المبارک ۱۵مه

---

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**